د افغانستان د موکراتیک جمهوریت
د عدلیی وزارت

# رسمی جریده

## قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم جمهوری دموکراتیک افغانستان

شمارهٔ اول – ۱۵ حمل سال ۱۳۶۰    نمبر مسلسل (۴۷۹)

| | |
|---|---|
| مدیرمسوول | ع.غفار گرامی |
| معاون | روگل نوری |
| مهتمم | نورعلم |
| تلفون | ۲۵۴۰۹ |

# رسمی جریده

**د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د محکمو د تشکیلاتو او صلاحیت د قانون د تصویب په هکله د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورافرمان**

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو د اوه دیرشمی مادی د لومړی فقری د حکم سره سم د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا تصویبوی :

۱ــ د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د محکمو د تشکیلاتو او صلاحیت قانون په اوه فصلو نو او یوسل اونو لسو مادو کښی تصویبیږی.

۲ــ د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ستره محکمه موظفیږی چی د محکمو له خوا د نو موړی قانون سم او بلا انحرافه تطبیق تامین کړی .

۳ــ د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ستره محکمه او د عدلیی وزارت موظفیږی چی په محکموکښی د قضایا وو دغور د مسایلو او د قضایی عدالت د تعمیل په بنا د نو موړی قانون نه د راولاړوشویو قوانینو طرح تدوین او د منظوری لپاره یی د معمول سره سم واکمنو مقاماتو ته‌پیشنهاد کړی .

**ببرك کارمل**
**د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس**

**فرمان شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان در باره تصویب قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم جمهوری دموکراتیک افغانستان**

بر حسب حکم فقره اول ماده (۳۷) اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان تصویب میدارد :

۱ــ قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم جمهوری دموکراتیک افغانستان در هفت فصل ویکصدو نزده ماده تصویب میگردد .

۲ــ ستره محکمه جمهوری دموکراتیک افغانستان موظف میگردد تا تطبیق صحیح و بلا انحراف قانون مذکور را توسط محاکم تامین نماید .

۳ــ ستره محکمه و وزارت عدلیه جمهوری دموکراتیک افغانستان موظف میگردد تا طرح قوانین ناشی از قانون مذکور را مبنی بر مسایل رسیدگی قضا یا در محاکم و تعمیل عدالت قضایی تدوین و جهت منظوری طبق معمول بمقامات صالحه پیشنهاد نماید .

**ببرك کارمل**
**رئیس شورای انقلابی**
**جمهوری دموکراتیک افغانستان**

بسم الله الر حمن الرحیم

## د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت د محکمو د تشکیلاتو او صلاحیت قانون

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه

**لو مړی ماده :**

دغه قانون د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهو ریت د اساسی اصولو د (٥٤ ــ ٥٨) مادو په‌اساس د انقلابی قا نونیت د تحکیم ،د انقلاب له‌ګټو ،دافغانستان د ملی استقلال او حاکمیت او د ځمکی د تمامیت نه د دفاع په بنا د ثور د ملی او دمو کرا تیك انقلاب دنوی پړاو د اهدافو د تحقق لپاره او د قضایی عدالت د تامین په لور د افغا نستان د دمو کراتیك جمهوریت د محکمو د تشکیلاتو ، صلاحیتو نو او فعالیتو نو د تنظیم په منظور وضع شوی دی .

**دو همه ماده :**

د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهو ریت د اساسی اصولو په اساس د افغا نستان په دموکراتیك جمهوریت کښی قضاوت د دموکرا- تیکو اصولو په اساس یوازی د محکمی له خوا کیږی .

## قانون تشکیلات و صلا حیت محاکم جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان

### فصل اول

### احکام عمومی

**ماده اول :**

این قا نون بتاسی از مواد (٥٤ تا ٥٨) اصول اساسی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان تحقق اهداف مرحله نوین انقلاب ملی و دمو کرا تیك ثور مبنی بر تحکیم قا نونیت انقلابی ، دفاع از دست اورد های انقلاب ،استقلال و حاکمیت ملی و تمامیت ارضی افغا نستان و به منظور تنظیم تشکیلات ، صلا حیتها و فعالیت های محاکم جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان در جهت تامین عدالت قضایی وضع گردیده است .

**ماده دوم :**

بتاسی از اصول اساسی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان قضاوت در جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان صرف توسط محکمه به اساس اصول دمو کرا تیك صورت میگیرد .

# رسمي جريده

قضاوت د افغا نستان د دموکراتيك جمهوريت د ستري محکمي، د ولاياتو، ښاروالو ولسواليو دمحکمو له خوا او همدا رنګه د وسله وال پوځ د محکمو له خوا کيږي. دمعينو قضايا وو دبررسي لپاره د قانون له حکمو نو سره سمي اختصاصي محکمي جوړيږي.

**دريمه ماده :**

د افغا نستان د دمو کرا تيك جمهو ريت ټولي محکمي موظفي دي چي :

۱ـ د ثور د انقلاب د ګټو .

۲ـ د هغه ټولنيز، سياسي او اقتصادي نظام چي د افغا نستان د دمو کرا تيك جمهوريت په اساسي اصولو کښي تثبيت شوی .

۳ـ دولتي ، کو پرا تيفي ، خصوصي او شخصي ملکيت .

۴ـ ددولت ، تصديو ، مختلطو او خصوصي موسسو او شر کتونو ، کو پراتيفي ، شخصي او د اجتماعي سازما نونو قانوني حقوق اوګټي.

۵ـ داتبا عو دژ وند ، آ زاد ي، ناموس ، حيثيت ، شتمني ،دکورني کانون حقوق اوسياسي ازا د يو چي د افغا نستان د دمو کرا تيك جمهو ريت د اساسي اصولو له خوا تضمين شوي دي ساتنه وکړي .

قضاوت توسط ستره محکمه جمهوری دمو کرا تيك افغا نستان، محاکم ولايات ، شهر ها والسوالی ها و همچنين توسط محاکم قوای مسلح صورت ميگيرد . جهت بررسی قضايای معين طبق احکام قانون محاکم اختصاصی تشکيل ميشود .

**ماده سوم :**

تمام محاکم جمهوری دموکراتيك افغا نستان موظف ميباشند تا از :

۱ـ دست اورد های انقلاب ثور .

۲ـ نظام اجتماعی ، سياسی و اقتصادی که در اصول اساسی جمهو ری دمو کرا تيك افغا نستان تثبيت گرديده است .

۳ـ ملکيت دولتی ، کو پراتيفی خصوصی و شخصی .

۴ـحقوق ومنافع قانونی دولت، تصديها ، موسسات و شرکتهای دولتی ، مختلط و خصوصی ، کوپراتيفی و سازمانهای ا جتماعی،

۵ـ زندگی ، آزادی ، ناموس حيثيت ، دارايی ، کانون خانواده حقوق و ازاديهای سياسی اتباع که توسط اصول اساسی جمهو ری دمو کرا تيك افغا نستان تضمين گرديده است ، حفظ و حراست نمايند .

رسمی جریده

**خلورمه ماده :**

د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کښی قضاوت په لاندی مقصد صورت مومی :

۱ـ د ټولو دولتی ، مختلطو او خصوصی موسسو ، تصدیو ، شرکتونو ، کو پراتیفونو ، اجتماعی ساز مانونو ، د چارو د مسوولینو او اتباعو له خوادقوانینو د رعایت تامین .

۲ـ داتباعو د حقوقی فهم‌دسطحی لوړول د هغو له خوا د قوانینو د جدی رعایت په خاطر .

۳ـ دقانون نه‌دسر غړونی پربنا دشکایاتو په اساس دقانونیت اعاده .

٤ـ د قانون شکنی او د ټولنی د گټو د ضد اعمالو مخنیوی .

٥ـ له قانون نه د سر غړوونکو مجازات او اصلاح .

٦ـ د نوی دموکراتیک نظام په وړاندی د وطن پالنی او صداقت په روحیه د انقلابی قانونیت نه د آگاهانه او داو طلبانه رعایت ، د کار او دولتی او ټولنیزو وجایبو په وړاندی له‌پت نه دډك سلوك د اتباعو حقوقو او حیثیت ته د احترام په روحیه د اتباعو روزل .

**ماده چهارم :**

در جمهوری دموکراتیک افغانستان قضاوت بمقصد ذیل صورت میگیرد :

۱ـ تامین رعایت قوانین توسط تمام موسسات و تصدیهای دولتی ،مختلط و خصوصی ،شرکتها کوپراتیفها و سازمانهای اجتماعی، مسوولین امور و اتباع .

۲ـ بلند بردن سطح فهم حقوقی اتباع به منظور رعایت جدی ایشان از قوانین .

۳ـ اعاده قانونیت بر اساس شکایات مبنی بر تخلف از قانون .

٤ـ جلو گیری از قانون شکنی و اعمال ضد منافع جامعه .

٥ـ مجازات و اصلاح متخلفین از قانون .

٦ـ تربیه اتباع به روحیه وطنپرستی و صداقت در مقابل نظام نوین دموکراتیک ، رعایت آگاهانه و داوطلبانه از قانونیت انقلابی ، رفتار شرافتمندانه در برابر کار و وجایب دولتی و اجتماعی ، احترام به حقوق وحیثیت اتباع .

# رسمی جریده

**پنځمه ماده :**

محکمې واك لري چې لاندې دعوې د قضاوت په وخت کښې د حقیقي او حکمي اشخاصو په ګډون تر غور لاندې ونیسي :

١ـ د جرم له کړنې نه ټولې را ولاړې شوې دعوې .

٢ـ د منقولو او غیر منقولو مالونو په هکله ټولې مدني او تجارتي دعوې. دحقوقو اومکلفیتونو په هکله د مامورینو او دولت تر منځ دعوې.

د اتباعو ، تصدیو ، دولتي ادارو، شرکتونو ، کوپراتیفونو او ټولنیزو سازمانو په حقوقو او ګټو پورې د مربوطو منازعاتو نه راولاړې شوې دعوې .

٣ـ اداري دعوې .

٤ـ نورې هغه دعوې چې د قانون د حکمونو په موجب په محکمه کښې اقامه کیږي .

**شپږمه ماده :**

د افغانستان ټول اتباع دقانون په وړاندې مساوي دي .

د افغانستان ټول اتباع ،دنژادي ملي ، قبیلوي ، ژبې ، جنس، د سکونت او اقامت د ځای ، دین زده کړې ، نسب ، شتمنۍ اوټولنیز دریځ له تعلق نه پرته مساوي حقوق او مکلفیتونه لري .

**ماده پنجم :**

محاکم صلاحیت دارند دعاوی ذیل را حین قضاوت با اشتراك اشخاص حقیقی و حکمی رسیدگی نمایند :

١ـ تمام دعاوی ناشی از ارتکاب جرم .

٢ـ تمام دعاوی مدنی و تجارتی راجع به اموال منقول و غیر منقول، دعاوی بین مامورین و دولت راجع به حقوق و مکلفیت ها ، دعاوی ناشی از منازعات مربوط به حقوق و منافع اتباع ، تصدیها، ادارات دولتی ، شرکتها ، کو پراتیفها و ساز مانهای اجتماعی .

٣ـدعاوی اداری .

٤ـ سایر دعاوی که بموجب احکام قانون به محکمه اقامه میشود .

**ماده ششم :**

تمام اتباع افغا نستان در مقابل قانون مساوی آند ، تمام اتباع افغا نستان بدون در نظر داشت تعلق نژادی ، ملی ، قبیلوی ، زبان، جنس ، محل سکونت و اقا مت ، دین ، تحصیلات ، نسب ، دارایی و موقف اجتماعی ، حقوق ومکلفیت های مساوی دارند .

**اومه ماده :**

په قضا یا وو باندی دغور په وخت کښی قضات مستقل دی او یوازی د قانون تابع دی .

د محکمی له خوا په قضایاوو باندی غور او د حکم صادرول د قانون او محکمی په وړاندی د اتباعو د تساوی د اصولو په‌اساس صورت مومی .

**اتمه ماده :**

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو په‌اساس محکمه په قضایا وو باندی د غورپه وخت کښی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت قوانین تطبیقوی .

په هغو حالاتو کښی چی قانون صراحت ونه لری، محکمه قضا یا د شریعت داحکامو او د دموکراتیک قانونیت او د عدالت د اصولو سره سم حل اوفصل کوی.

**نهمه ماده :**

په‌ټولو محکمو کښی په قضایاوو باندی په ډله ایزه توگه غور کیږی :

۱ـ په ټولو محکمو کښی په قضایا وو باندی لومړی د دری‌تنو قاضیانو له خوا غور کیږی . د ښارونو او ولسوا لیو هغه محکمی چی په تشکیل کښی یی د قاضیانو شمیر له دری تنونه کم وی له دی حکم نه مستثنی دی .

**ماده هفتم :**

قضات حین رسیدگی قضایا مستقل و صرف تابع قانون میباشند .

رسیدگی قضایا و اصدار حکم توسط محاکم به اساس اصول تساوی اتباع در برابر قانون و محکمه صورت میگیرد .

**ماده هشتم :**

بتاسی از اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان محکمه حین رسیدگی قضایا قوانین جمهوری دموکراتیک افغانستان را تطبیق میکند .

در حالاتیکه قانون صراحت نداشته باشد محکمه قضایا را طبق احکام شریعت و اصول قانونیت دموکراتیک و عدالت حل و فصل مینماید .

**ماده نهم :**

قضایا در تمام محاکم بصورت دسته جمعی رسیدگی میشود :

۱ـ قضایا در تمام محاکم ابتدا باشتراك سه نفر قاضی رسیدگی میشود ، محاکم شهر ها و ولسوالی ها ییکه در تشکیل آنها تعداد قضات از سه نفر کمتر باشد ازین حکم مثتثنی‌است.

۲ـ د دعوا د لوری د شکایت یا د ښار او ولسوالی د محکمو په حکمونو باندی د څارنوال د اعتراض نه په راولاړو شویو قضایاوو د ولایت د محکمی د دری تنوقاضیانو له خوا غور کیږی .

۳ـ د دعوی د لوری له شکایت یا د ولایت د محکمی پر حکم د څارنوال د اعتراض نه په راولاړو شویو قضایا وو د ستری محکمی د دری تنو قاضیانو له خوا غـــور کیږی .

٤ـ دمحکمو پر وروستیو حکمو باندی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د لوی څارنـــوال د اعترا ضونو نه راولاړی شوی‌قضایا د ستری محکمی د عالی شورا لـــه خوا ترنوی‌کتنی‌لاندی نیول کیږی .

**لسمه ماده :**

په ټولو محکمو کښی په قضایا وو باندی په ښکاره غونډو کښـــی غورکیږی . هغه حالات‌چی قضایا وو باندی په پټو غونډو کښی غور کیږی د قانون له خوا ټاکل کیږی .

د حکم ابلاغ په ټولو حالاتو کښی علنی دی .

**یوو لسمه ماده :**

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو پـــه اساس په محکمـو کښی د قضایاوو

۲ـ قضایای ناشی از شکایـــت طرف دعوی یا اعتراض څارنـــوال بر احکام محاکم شهری و ولسوالی توسط سه نفر قاضی محکمه‌ولایت رسیدگی میشود .

۳ـ قضایای ناشی از شکایـــت طرف دعوی یا اعتراض څارنـــوال بر احکام محکمهٔ ولایت توسط سه نفر قاضی ستره محکمه رسیدگـــی میشود .

٤ـ قضا یای ناشی از اعتراضات لوی څارنوال جمهو ری دمو کراتیک افغا نستان بر احکام نهایی محاکم توسط شورای عالی ستره محکمـــه مورد تجدید نظر قرار داده میشود.

**ماده دهم :**

قضایا در تمام محاکم در جلسات علنی رسیدگی میشود . حالاتیکـــه قضایا در جلسات سری رسیدگـــی میشود توسط قانون تعیین میگردد.

ابلاغ حکم در تمام حالات بایـــد علنی باشد .

**ماده یازدهم :**

باساس اصول اساسی جمهوری دمو کرا تیك افغا نستان رسیدگی و حل و فصل قضایا در محاکـــم

حل وفصل په پښتو اودری ژبو او یا دسیمی د خلکو د اکثریت په ژبه صورت مومی .

که چیری د دعوی دواړه خواوی به هغی ژبه چی محاکمه پری صورت مومی ونپو هیږی د ترجمان له لاری د دوسیی له موادو او اسنادو سره داشنایی حق او په محکمه کښی په مورنی ژبه د خبرو کولو حق ورته تضمینیږی .

**دولسمه ماده :**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت د اساسی اصولو په اساس متهم د دفاع حق لری .

**دیار لسمه ماده :**

متهم ته د دفاع ، د دعوی د دواړو خواوو دحقوقو دساتنی او همدارنگه اتباعوته د نورو حقوقی مرستو په منظور د مدافع وکیلانو مستقل انجمن فعال دی .

دمدافع وکیلانو دانجمن تشکیل اوفعالیت دقانون له‌خوا تنظیمیږی.

**خوار لسمه ماده :**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت د اساسی اصولو سره‌سم هیڅوک دجرم په کړ نه‌متهم کیدلای نه‌شی مگر د قانون له حکمونو سره‌سم .

به زبانهای پشتو و دری و یا به زبان اکثریت اهالی محل صورت می گیرد .

اگر طر فین دعوی زبانی را که محاکمه توسط آن صورت میگیرد ندانند حق اشنایی با مواد و اسناد دوسیه از طریق ترجمان و حق صحبت در محکمه بزبان ما دری شان تضمین میگردد .

**ماده دوازدهم :**

بنا سی از اصول اساسی جمهو ری دمو کرا تیک افغا نستان متهم حق دفاع را دارد .

**ماده سیز دهم :**

جهت مساعدت در امر دفاع برای متهم ، حمایت حقوق طرفین دعوی و همچنین سایر کمک های حقوقی برای اتباع ،انجمن مستقل وکلای مدافع فعال است .

تشکیل و فعالیت انجمن وکلای مدافع توسط قانون تنظیم میگردد.

**ماده چاردهم :**

بر حسب اصول اساسی جمهو ری دمو کرا تیک افغا نستان هیچکس را نمیتوان متهم به ارتکاب جرم نمود مگر مطابق به احکام قانون .

# رسمی جریده

هیڅوك نیول کید لای او توقیف کیدلای نشی مگر د قانون له حکمونو سره سم .

هیڅوك مجازات کیدلای نشی مگر د محکمی په حکم او د هغه قانون له حکمونو سره سم چی د تور وړ فعل د کولو په وخت کښی نافذ وی .

متهم تر هغه وخته پوری چی د محکمی په قطعی حکم محکوم شوی نه وی ، بی گناه گڼل کیږی .

جرم یو شخصی کار دی او په کولویی بل څوك نه مجازات کیږی.

**پنځلسمه ماده :**

محکمه نشی کولای دهغوقضایاوو په هکله چی پری غور شوی د حکم له صادرولو نه ځان وژغوری .

**شپاړسمه ماده :**

۱ـ د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت داساسی اصولو سره سم د محکمو ټولی پریکړی د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت په نامه صادریږی .

دمحکموپریکړی باید مدللی وی.

۲ـ محکمه په ټولو حالاتو کښی د حکم په نص کښی د هغو قانونی موادو یادونه کوی چی د حکم په صادرولو کښی پری اتکا کوی .

هیچکس را نمیتوان گرفتار و توقیف نمود مگر مطابق به احکام قانون .

هیچکس را نمیتوان مجازات نمود مگر به حکم محکمه و مطابق باحکام قانون که هنگام ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ باشد .

متهم تا زمانیکه بحکم قطعی محکمه محکوم نه شده است بی گناه شناخته میشود .

جرم یك امر شخصی است وبا ارتکاب آن شخص دیگر مجازات نمیگردد .

**ماده پانزدهم :**

محکمه نمیتواند از اصدار حکم در باره قضا یاییکه مورد رسیدگی قرار گرفته خود داری نماید .

**ماده شانزدهم :**

۱ـ بر حسب اصول اساسی جمهوری دموکراتیك افغانستان تمام فیصله های محاکم بنام جمهوری دموکراتیك افغانستان صادر میگردد .

فیصله های محاکم باید مدلل باشد .

۲ـ محکمه در تمام احوال مواد قانونی را که در صدور حکم به آن اتکاء میکند در نص حکم ذکر کند .

**اولسمه ماده :**

د دعوی دواړه خواوی هریو یا څارنوال کولای شی چی د محکمی له خوا په صادر و شویو پریکړو د قانون له حکمونو سره سم دلوړی محکمی په وړاندی اعتراض وکړی مگر داچی قانون بل ډول حکم کړی وی .

**اتلسمه ماده :**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت د اساسی اصولو په اساس د محکمو د تنفیذی اوقطعی پر یکړو تطبیقول حتمی دی .

د اعدام حکم د انقلابی شوری د رئیسه هیأت له منظوری نه وروسته تطبیقیږی .

**نو لسمه ماده :**

محکمی مکلفی دی چی د خپلو پریکړو د تطبیق څارنه وکړی او د نورو واکمنو مقاماتو نه یی دتعمیل غوښتنه وکړی .

**شلمه ماده :**

که چیری محکمه د غور په وخت کښی په دی وپوهیږی چی حق تلفی شوی ده ، مو ضوع مربوطو اور گانو نو ته خبر ورکوی. که چیری پیښه جزایی اړخ ولری ، محکمه موظفه ده چی په دی هکله څارنوال ته خبر ور کړی .

**ماده هفدهم :**

هریک از طرفین دعوی یا څارنوال میتواند در مورد فیصله های صادرۀ محکمه مطابق به احکام قانون په پیشگاه محکمه مافوق اعتراض نماید مگر اینکه قانون طور دیگری حکم نموده باشد .

**ماده هجدهم :**

بتاسی ازاصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغا نستان تطبیق فیصله های تنفیذی و قطعی محاکم حتمی میباشد .

حکم اعدام بعداز منظوری هیأت رئیسه شورای انقلابی تطبیق میگردد .

**ماده نزدهم :**

محاکم مکلفند از تطبیق فیصله های خویش نظارت کنند و تعمیل آنرا از سایر اورگان های ذیصلاح تقاضا نمایند .

**ماده بیستم :**

هرگاه محکمه حین رسیدگی قضایا در یابد که حق تلفی صورت گرفته موضوع را به اور گانهای مربوط اطلاع میدهد . در صورتیکه قضیه جنبه جزایی داشته باشد محکمه موظف است در باره به څارنوال اطلاع بدهد .

## دوهم فصل

### د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د سترې محکمې تاسیس، تشکیل او صلاحیت

### ۱– دسترې محکمې تاسیس او تشکیل:

**یوویشتمه ماده :**

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت داساسی اصولو سره‌سم ستره محکمه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا له خوا تاسیسیږی .

**دوه ویشتمه ماده :**

ستره محکمه له رئیس ، د رئیس له مرستیالانو او غړونه مرکبه ده .

د سترې محکمې مرستیالان په عین حال کښې د سترې محکمې د قضایی‌هیأتونو ریاست‌په‌غاړه لری.

د سترې محکمې د قاضیانو شمیر د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا له خوا ټاکل کیږی .

د سترې محکمې د قاضیانو کمبود د سترې محکمې د رئیس په پیشنهاد او د انقلابی شورا د رئیسه هیأت په منظوری ټاکل کیږی .

## فصل دوم

### تاسیس ، تشکیل و صلاحیت ستره محکمه جمهوری دموکراتیک افغانستان

### ۱– تاسیس و تشکیل ستره محکمه :

**ماده بیست و یکم :**

بر حسب اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان ستره محکمه توسط شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان تاسیس میشود .

**ماده بیست و دوم :**

ستره محکمه مرکب است از : رئیس ،معاونان رئیس و اعضاء

معاونان رئیس ستره محکمه در عین حال ریاست هیئت های قضایی ستره محکمه را بدوش دارند .

تعداد قضات ستره محکمه توسط شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان تعیین میشود .

کمبود قضات ستره محکمه به پیشنهاد رئیس ستره محکمه و منظوری هیئت رئیسه شورای انقلابی تعیین میگردد .

**دروو یشتمه ماده :**

ستره محکمه متشکله ده له :

۱ د جزایی قضایاوو هیأت .
۲ــ د مدنی قضایا وو هیأت .
۳ــ د ستری محکمی عالی شورا

**څلرو یشتمه ماده :**

د جزایی قضایا وو هیأت متشکل دی له :

۱ــ د عمومی جزا دیوان .
۲ــ د عامه امنیت د یوان .
۳ــ د قاضیانو د محاکمی او د صلاحیت د تنازع دیوان .

**پنځه ویشتمه ماده :**

دمدنی قضایا و و هیأت متشکل دی له :

۱ــ د مدنی او عامه حقوقو د قضایاوو دیوان .
۲ــ د تجارتی قضایاوو دیوان .

**شپږ ویشتمه ماده :**

د ایجاب په وخت کښی د ستری محکمی د رئیس په پیشنهاد او د انقلابی شورا د رئیسه هیئت په منظوری نور دیوانونه هم تشکیلیدلای شی .

**اوه ویشتمه ماده :**

دهریو دیوان ریاست د ستری محکمی د غړونه یو تن چی د انقلابی شورا د رئیسه هیأت له خوا ټاکل کیږی په غاړه لری .

**ماده بیست و سوم :**

ستره محکمه متشکل است از :

۱ــ هیئت قضایای جزایی .
۲ــ هیئت قضایای مدنی .
۳ــ شورای عالی ستره محکمه .

**ماده بیست و چهارم :**

هیئت قضایای جزایی متشکل است از :

۱ــ دیوان جزای عمومی .
۲ــ دیوان امنیت عامه .
۳ــ دیوان محاکمهٔ قضات و تنازع صلاحیت .

**ماده بیست و پنجم :**

هیئت قضایای مدنی متشکل است از :

۱ــ دیوان قضایای مدنی و حقوق عامه .
۲ــ دیوان قضایای تجارتی .

**ماده بیست و ششم :**

عند الایجاب به پیشنهاد رئیس ستره محکمه و منظوری هیئت رئیسهٔ شورای انقلابی دیوان های دیگر نیز تشکیل شده میتواند .

**ماده بیست و هفتم :**

ریاست هریك از دیوانها رایکنفر از اعضای ستره محکمه که توسط هیئت رئیسهٔ شورای انقلابی تعیین میشود بدوش دارد .

**اته ویشتمه ماده :**

په قضایي هیأتونو او دیوانونو کښې دستري محکمې د غړو توظیف د ستري محکمې د رئیس له خوا صورت مومي .

**نه ویشتمه ماده :**

که چیرې د جلسې نصاب په کوم علت په کوم دیوان کښې پوره نشي د ستري محکمې رئیس کولای شي چې د بل دیوان غړی په موقتي ډول نو موړي دیوان کښې توظیف کړي.

**دیر شمه ماده :**

دستري محکمې عالي شورا مرکبه ده له :

۱ــ د ستري محکمې رئیس د رئیس په ډول .

۲ــ د ستري محکمې د رئیس معاونان د غړو په ډول .

۳ــ د ستري محکمې د دیوانونو رئیسان د غړو په ډول .

٤ــ د کابل د ولایت د محکمې رئیس د غړي په ډول .

**یو دیر شمه ماده :**

د ستري محکمې تشکیل د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت د انقلابي شورا له خوا منظوریږي .

**دوه دیر شمه ماده :**

د ستري محکمې د ریاستونو او شعبو دندې او مکلفیتونه د قانون

**ماده بیست و هشتم :**

توظیف اعضای ستره محکمه به هیئت های قضایی و دیوانها توسط رئیس ستره محکمه بعمل می اید .

**ماده بیست و نهم :**

هرگاه نصاب جلسه به علتی دریك دیوان تکمیل نگردد ، رئیس ستره محکمه میتواند عضو دیوان دیگر را موقتا بدیوان مذکور توظیف نماید .

**ماده سی ام :**

شورای عالی ستره محکمه مرکب است از :

۱ــ رئیس ستره محکمه بحیث رئیس .

۲ــ معاونان رئیس ستره محکمه بحیث اعضاء .

۳ــ رو سای دیوانهای ستره محکمه بحیث اعضا .

٤ــ رئیس محکمه ولایت کابل بحیث عضو .

**ماده سي و یکم :**

تشکیل ستره محکمه توسط شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغانستان منظور میگردد .

**ماده سی و دوم :**

وظایف و مکلفیت های ریاست‌ها و شعبات ستره محکمه توسط لوایح

له حکمونو سره‌سم د خاصو لایحو په واسطه ټاکل کیږی .

**۲ـ دستری محکمی صلاحیتونه:**

الف ـ په قضایی ساحه کښی

**دری دیرشمه ماده :**

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو سره‌سم :

۱ـ ستره محکمه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ډیر لوړ قضایی اورګان دی .

۲ـ ستره محکمه د قانون له حکمونو سره سم د محکمو دقضایی فعالیت څارنه کوی او د محکمو له خوا د قوانینو د تطبیق واحد شکل تامینیوی .

**څلور دیرشمه ماده :**

د ستری محکمی دیوانونه په‌هغو مواردو کښی چی قانون پری حکم وکړی په قضایاوو باندی د ابتدایی غور کولو صلاحیت لری

د ستری محکمی د دیوانونو ټول حکمونه چی د دی مادی له حکم سره سم صادر یږی ، نهایی دی .

**پنځمه دیرشمه ماده :**

د ستری محکمی هریو دیوان په هغو قضایاوو باندی چی د قانون سره سمی ورته محولی شوی دی غور کوی .

خاص مطابق به احکام قانون تعیین میگردد .

**۲ـ صلاحیت های ستره محکمه :**

الف : در ساحهٔ قضایی .

**ماده سی و سوم :**

بر حسب اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان:

۱ـ ستره محکمه عالی ترین اورگان قضایی جمهوری دموکراتیک افغانستان میباشد .

۲ـ ستره محکمه طبق احکام قانون بر فعالیت قضایی محاکم نظارت و شکل واحد تطبیق قوانین را توسط محاکم تامین میکند .

**ماده سی و چارم :**

دیوان های ستره محکمه صلاحیت رسیدگی ابتدایی قضایا را در مواردیکه قانون به آن حکم کند دارا میباشند.

تمام احکام دیوانهای ستره محکمه که طبق حکم این ماده صادر میشود نهایی میباشد .

**ماده سی و پنجم :**

هریك از دیوان های ستره محکمه قضایایی را که طبق قانون به آن محول گردیده رسیدگی میکند .

**شپږ دیرشمه ماده :**

د ستری محکمی دیوانونه کولای شی چی د دعوی د دواړو خواوو د شکایت یا د څارنوال د اعتراضاتو په اساس د ولایاتو د محکمو د دیوانونو احکام او پریکړی چی ابتداء یی حکم کړی دی په وروستی پړاو کښی تر غور لاندی ونیسی .

د ولایاتو د محکمو د دیوانونو د حکمو نو په هکله د ستری محکمی د دیوانونو پریکړی نهایی دی .

**اوه دیرشمه ماده :**

د ستری محکمی دیوانونه‌د عامه حقوقو ، کار او کارگر ، تجارت او اداری‌قضایاوو باندی په وروستی مرحله کښی د غور په وخت کښی کولای شی چی دولایت دمحکمی حکمونه تایید یا هغه نقض کړی او مربوطی محکمی ته یی د غور لپاره راجع کاندی او یا د اقامه شویو دلایلو په هکله د دلایلو د راټولونی یا د زیات تحقیق د ضرورت د نشتوالی په صورت کښی پخپله حکم صادر کړی .

**اته دیرشمه ماده :**

د ستری‌محکمی دیوان‌په وروستی پړاو کښی په جزایی قضایاوو باندی د غور په وخت کښی کولای شی چی د ولایت د محکمی له خوا صادر شوی حکم تایید یامحکوم بهامجازات

**ماده سی و ششم :**

دیوانهای ستره محکمه میتوانند باساس شکایات طرفین دعوی یا اعتراضات څارنوال احکام و فیصله دیوانهای محاکم ولایات‌راکه ابتدأ حکم نموده است به مرحله نهایی رسیدگی نمایند .

فیصلهٔ دیوانهای ستره محکمه در مورد احکام محاکم ولایات نهایی میباشد .

**ماده سی و هفتم :**

دیوانهای ستره محکمه حین رسیدگی قضایای حقوق عامه ، کار و کارگر ، تجارت و اداری به‌مرحله نهایی میتوانند احکام محکمه ولایت را تایید یا آنرا نقض نموده و جهت رسیدگی مجدد به محکمه مربوط ارجاع نمایند ، یادرصورت عدم ضرورت گرد آوری دلایل یا تحقیقات مزید راجع به دلایل اقامه شده خود حکم صادر نمایند .

**ماده سی و هشتم :**

دیوان ستره محکمه حین رسیدگی قضایای جزایی به مرحلهٔ نهایی میتواند حکم صادرهٔ محکمه ولایت را تایید یا مجا زات‌محکوم‌بها را تخفیف دهد یا حکم قانون را

سپك كړي او يا د جرم د عدم شدت په بنا د قانون حكم تطبيق كړي، خو نشي كولای چې مجازات زيات كړي يا د جرم د شدت په بنا دقانون حكمونه تطبيق كړي. د مجازاتو د سپكوالي يا د جرم د شدت په بنا د قانون د حكم د تطبيق په علت د څارنوال د اعتراض يا د متضرر د شكايت په صورت كښې كولای شي چې حكم نقض كړي ، په دې حالت كښې قضيه د بيا غور لپاره مربوطې محكمې ته ارجاع كيږي خو چې د هغو قاضيانو له خوا چه د هغو اكثريت د لومړي حكم په صادرولو كښې ګډون نه لري، حكم صادرشي.

**نه دیرشمه ماده :**

د ستري محكمې ديوانونه په هغه صورت كښې چې د ولاياتو د محكمو حكمونه د دوهم ځل لپاره نقض كړي ، قضيه د مجدد حكم د صادرولو لپاره ابتداء تر غور لاندې نيسي .

**څلويښتمه ماده :**

د ستري محكمې ديوان د ولاياتو د محكمو د نهايي حكمونو په هكله د دعوى د لوري د شكايت يا د څارنوال د اعتراض په سبب جزايي قضايا د هغو حالاتو او ترتيب سره سمي چې د جزايي اجرا آتو

مبنی بر عدم شدت جرم تطبیق کند ولی نمیتواند مجازات راتشدید یا احکام قانون را مبنی بر شدت جرم تطبیق نماید . در صورت اعتراض څارنوال یا شکایت متضرر به علت خفت مجازات یا تطبیق حکم قانون مبنی بر شدت جرم میتواند حکم را نقض کند ، درین حالت قضیه جهت رسیدگی مجدد به محکمه مربوط ارجاع میگردد تا توسط قضا تیکه اکثریت آن در صدور حکم اولی اشتراك نداشته باشند ، حکم صادر نماید .

**ماده سی و نهم :**

دیوان های ستره محکمه در صورتیکه احکام محاکم ولایات را بار دوم نقض نماید قضیه را جهت صدور حکم مجدد ابتداء رسیدگی میکنند .

**ماده چهلم :**

دیوان ستره محکمه قضایای جزایی را باثر شکایت طرف دعوی یا اعتراض څارنوال در مورد احکام نهایی محاکم ولایات دراحوال و به تر تیبیکه در قانون اجرا آت

په قانون کښی پیشبینی شوی دی تر غور لاندی نیسی .

**یو خلو یښتمه ماده :**

د ستری محکمی دیوانونه مدنی، د عامه حقوقو ، اداری ، د کار او کارگر دحقوقو او تجارتی قضایا د قانون په تطبیق کښی د خطا یاد قانون په تاویل کښی د خطا یا د اجرا آتو د بطلان په صورت کښی‌په دی ډول چی د غیر قانونی حکم صادریدلو ته‌منجر شوی وی د دعوی د لوری دشکایت یادولایاتو دمحکمی په حکمونو باندی د څارنوال د اعتراض په اساس تر غور لاندی نیسی .

**دوه خلو یښتمه ماده :**

په قضایاوو باندی د بیا غور په هکله د لوړو محکمو حکمونه او قرارونه په‌ښکته‌محکموباندی واجب‌التعمیل دی .

**دری خلو یښتمه ماده :**

د ستری محکمی د قضایی‌هیأتونو رئیسان لاندی صلا حیتو نه لری :

۱ـ د قضایی هیئت اداری لار ښوونه .

۲ـ د ضرورت په وخت کښی د قضایی هیأت د غونډو دایرول .

۳ـ د قضایی غونډو مشری کول .

جزایی پیشبینی گردیده است ، مورد رسیدگی قرار میدهد .

**ماده چهل و یکم :**

دیوانهای ستره محکمه قضایای مدنی ، حقوق عامه ، قضایای اداری ، حقوق کار و کارگر و قضایای تجارتی را بر اساس شکایت طرف دعوی یا اعتراض څارنوال بر احکام نهایی محکمهٔ ولایات در صورت خطا در تطبیق قانون یا خطا در تاویل قانون یا بطلان در اجرا آت بنحو یکه منجر به صدور حکم غیر قانونی گردیده باشد ، مورد رسیدگی‌قرار میدهند .

**ماده چهل و دوم :**

احکام و قرار های محاکم فوقانی در مورد رسیدگی مجدد قضایا، بر محاکم تحتانی واجب التعمیل میباشد .

**ماده چهل و سوم :**

روسای هیئت های قضایی ستره محکمه دارای صلاحیت های ذیل میباشند :

۱ـ رهبری اداری هیئت قضایی.

۲ـ دایر نمودن جلسات هیئت قضایی عند الاقتضاء .

۳ـ ریاست از جلسات هیئت قضایی .

٤ــ د قضایی تجربو د توحیــد د چارو تنظیمول .

٥ــد ستری محکمی عالی شوری ته د قضایی هیأت داجرا آتو دراپور وړاندی کول .

**ځلور ځلو ښتمه ماده :**

د دیوانو نو رئیسان لانــــدی صلا حیتو نه لری :

۱ــ د مربوط دیوان د فعالیــت لار ښوونه .

۲ــ په قضا یاوو باندی د غــور لپاره د غونډو مشری او په هغــو کښی ګډون کول .

۳ــ د مربوط دیوان د قضایــی تجربو د توحید د چارو تنظیمول .

**پنځه ځلو ښتمه ماده :**

د دیوانونو رئیسان او غړی پـه قضایاوو باندی د غور ، د قوانینـو د تطبیق او د صادر شویو پریکړو مدلل توب د کیفیت او د مودو پـه هکله ځانګړی مسوولیت لری .

**شپږ ځلو ښتمه ماده :**

ستره محکمه د خپل صلاحیـت په حدودو کښی د افغا نســتـان د دمو کراتیك جمهو ریت د بین‌المللی مقاولاتونه را ولاړ شوی مسایــل حل او فصل کوی .

**اوه ځلو ښتمه ماده :**

ستره محکمه د خپلو فعا لیتونو په هکله‌انقلابی شورا ته او دانقلابی

٤ــ تنظیم امور توحید تجــارب قضایی .

٥ــ تقدیم راپور اجرا آت هیئت قضایی به شورای عالی ستـــــره محکمه .

**ماده چهل و چهارم :**

روسای دیوانها دارای صلاحیت های ذیل میباشند :

۱ــ رهبری فعالیت دیــــوان مربوط .

۲ــ ریاست جلسات و اشتراك در جلسات جهت رسیدگی قضایا .

۳ــ تنظیم امور توحید تجــارب قضایی دیوان مربوط .

**ماده چهل و پنجم :**

روسا و اعضای دیوان ها درمورد کیفیت و مواعید رسیدگی قضایــا ، تطبیق قوانین و مدلل بودن فیصله های صادره مسوولیت فــــردی دارند .

**ماده چهل و ششم :**

ستره محکمه در حدود صلاحیت خود مسایل ناشی از مقــــاولات بین المللی جمهو ری دمو کرا تیـك افغا نستان را حل و فصـــــل مینماید .

**ماده چهل و هفتم :**

ستره محکمه از فعالیت هــــای خود به شورای انقلابی و در خلال

شورا د اجلاسیه د ورو په منځ موده کښې د انقلابی شورا رئیسه هیأت ته راپور ور کوی .

ستره محکمه د خپل صلاحیت په دوره کښې لږ تر لږه یو ځلی له خپل فعالیت نه انقلابی شورا ته راپور ورکاندی کوی او له خپلو اجرا آتو نه تل د افغانستان د دمو کراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیسه هیأت‌ته راپور وکوی.

**اته ځلو ینښتمه ماده :**

ستره محکمه د قضا په ساحه کښې د قانون د طرح کولو د ابتکار او د افغانستان د دمو کراتیک جمهوریت انقلابی شورا ته یی د پیشنهاد حق لری .

ب- په‌اداری چاروکښې:

**نه ځلو ینښتمه ماده :**

ستره محکمه دلاس لاندی محکمو اداری لار ښوونه په غاړه لری ، د هغو د فعالیت څارنه کوی او همدا رنګه په قضایی فعالیت پوری په مربوطو مسایلو کښې د قانون له حکمونو سره سم بین المللی اړیکی ټینګوی .

**پنځو سمه ماده :**

ستره محکمه د محکمو دتاسیس د تاسیس د ځای ، د هغو دتشکیل او بودجی په هکله د قانون سره‌سم

مدت بین دوره های اجلاسیهٔ شورای انقلابی به هیئت رئیسهٔ آن گزارش میدهد .

ستره محکمه در دورهٔ صلاحیت خود حد اقل یك بار از فعالیت خویشس به شورای انقلابی راپور ارائه میکند واز اجرا آت خودبه هیئت رئیسهٔ شورای انقلا بی جمهوری دمو کرا تیك افغا نستان دایما گزارش میدهد .

**ماده چهل و هشتم :**

ستره محکمه حق ابتکار طرح قانون را درساحه قضا و پیشنهاد آنرا بشورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان دارا میباشد .

ب : در امور اداری :

**ماده چهل و نهم :**

ستره محکمه رهبری اداری محاکم تحت اثر را بدوش داشته از فعا لیت آنها مراقبت میکند و همچنین طبق احکام قانون درمسایل مربوط به فعالیت قضایی ارتباطات بین المللی بر قرار میکند .

**ماده پنجا هم :**

ستره محکمه راجع به تاسیس محاکم ، محل تاسیس ، تشکیل و

# رسمی جریده

واکمنو مقاماتو ته پیشنهاد وړاندی کوی .

**یو پنځو سمه ماده :**

ستره محکمه‌دلاس لاندی محکمود فعالیت د پرمخ بیولو لپاره مادی اسا نتیاوی برابر وی .

**اوه پنځو سمه ماده :**

ستره محکمه د قضایی اورگانونو د کدر ، د قاضیانو د پیشنهاد د قضایی ستاژ د کورس د تنظیم د قضایی کدرونو د روزنی د تجدید او د تخصص د سطحی د لوړولو د چارو لارښوونه کوی او هغو ته سازمان ور کوی .

**دری پنځو سمه ماده :**

ستره محکمه د محکمو د فعالیت پلټنه کوی او د محکمو د رئیسانو دجرا آتو په‌هکله دهغوی .را پور اوری او د محکمو د فعالیت د ښه توب او د هغو د گټورو تجربو د تعمیم په هکله تدابیر نیسی .

**خلور پنځو سمه ماده :**

ستره محکمه د مشخصو قضایاوو په ساحه کښی د قضایی تجربو تدقیق او مطالعه سرته رسوی د محکمو د اجرا آتو د نیمگړتیا وو د لری کولو لپاره تدابیر نیسی .

بودجۀ آن طبق قانون بمقامات ذیصلاح پیشنهاد ارائه می‌نماید.

**ماده پنجاه و یکم :**

ستره محکمه برای پیشبرد فعالیت محاکم تحت اثر تسهیلات مادی مهیا میسازد .

**ماده پنجاه و دوم :**

ستره محکمه امورکدر اورگانهای قضایی ، پیشنهاد قضات ، تنظیم کورس ستاژ قضایی ، تجدید تربیه و ارتقای سطح تخصص کدر های قضایی را رهبری نموده و سازمان میدهد .

**ماده پنجا و سوم :**

ستره محکمه فعالیت محاکم را تفتیش وگزارشات رو سای محاکم را راجع به اجرا آت شان استماع مینماید و جهت بهبود فعالیت محاکم و تعمیم تجارب مفید آنها تدابیر اتخاذ میکند .

**ماده پنجا و چهارم :**

ستره محکمه تدقیق و مطالعه تجارب قضایی را در ساحه قضایای مشخص بعمل اورده جهت رفع نواقص اجرا آت محاکم تدابیر اتخاذ میکند .

**پنځه پنځوسمه ماده :**

ستره محکمه د قضایی احصائیی چاروته ساز مان ورکوی او په لاس راغلو ارقامونه د محکمو د فعالیت د ښه توب او د قانون جوړولو د بشپړتیا به بنا د پیشنهادونو د تنظیم لپاره استفاده کوی .

**شپږ پنځوسمه ماده :**

ستره محکمه د جرمونو نه د اغیزه ناك مخنیوی او د دموکراتیك قانونیت د ټینگښت او په هیواد کښی د هوساینی اوانقلابی نظم د استقرار په منظور تد بیرونه نیسی .

**اوه پنځوسمه ماده :**

ستره محکمه د خپلو پریکړو د تطبیق لار ښوونه او کنترول کوی او له نورو واکمنو مقاماتونه دهغو د تعمیل غوښتنه کوی .

**اته پنځوسمه ماده :**

ستره محکمه د قوانینو ، کودونو او د مقرراتو د مجموع له در که د محکمو اړتیا پوره کوی .

ستره محکمه د قضا د مجلی په نامه یوه مجله خپروی چی په هغی کښی د قوانینو د تطبیق په بنا د محکمو د تجربو په ارتباط مضامین درجیږی .

**ماده پنجاو پنجم :**

ستره محکمه امور احصائیهٔ قضایی را سازمان میدهد و از ارقام حاصله جهت بهبود فعالیت محاکم و تنظیم پیشنها دات مبنی برتکامل امور قانون گزاری استفاده مینماید.

**ماده پنجا و ششم :**

ستره محکمه بمنظور جلو گیری موثر از جرایم و تحکیم قانونیت دمو کرا تیك ، استقرار اسایش و نظم انقلابی در کشور تدابیر اتخاذ مینماید .

**ماده پنجا و هفتم :**

ستره محکمه تطبیق فیصله های خود را رهبری و کنترول میکنند و تعمیل آنها را از سایر مقامات ذیصلاح تقاضا میکند .

**ماده و پنجاو هشتم :**

ستره محکمه ضرورت محاکم را از ناحیه قوانین ، کود ها ومجموع مقررات تامین میکند .

ستره محکمه مجله ای را بنام مجلهٔ قضا نشر مینماید که در آن بارتباط تجارب محاکم مبنی بر تطبیق قوانین مضامین درج میگردد .

### ۳ـ د ستري محكمې د عالي شورى صلاحيتونه :

**نه پنځو سمه ماده :**

د ستري محكمې عالي شورى لاندي صلاحيتونه لري :

۱ـ د قضايي تجربو د توحيد او دقضايي احصائيې په‌پام كښي نيولو سره محكمې ته د قانون د تطبيق په چارو كښي د توضيحاتو وركول .

۲ـ دمحكمو د تشكيل ، د محكمو د اجرا آتو د طرز العمل په بنا د قوانينو د طرحې تدوين او دقانون له حكمونو سره سم يې د انقلابي شورا رئيسه هيأت ته پيشنهادول .

۳ـ د قضايي چارو د تنظيم په‌بنا د مقرراتو او لايحو بررسي او منظوري چې د قانون سره سم د ستري محكمې صلاحيت دي .

۴ـ د ستري محكمې د غړو په تاديبي قضايا وو باندي غور كول .

۵ـ د قوانينو د تطبيق د تجربو او د قضايي اشتبا هاتو د مخنيوي لپاره د تد بيرونو د نيولو په برخه كښي د ستري محكمې د قضايي هيا تونو درئيسانو او دديوانو د رئيسانو او همدارنګه د ولاياتو د محكمو د رئيسانو د اجرا آتو په هكله د هغو د راپورونو اوريدل .

۶ـد قا ضيانو د تقرر ، ترفيع تبديلي ، عزل او تقاعد په بنا د

### ۳ـ صلاحيت هاى شوراى عالى ستره محكمه :

**ماده پنجا و نهم :**

شوراى عالى ستره محكمه داراى صلاحيت هاى ذيل ميباشد :

۱ـ اعطاى توضيحات براى محاكم در امور تطبيق قوانين بادر نظر داشت مواد توحيد تجارب قضايي و احصاييه قضايي .

۲ـ تدوين طرح قوانين مبني بر تشكيل محاكم ، طرز العمل اجرا آت محاكم و پيشنهاد آن به هيئت رئيسه شوراى انقلابى مطابق باحكام قانون .

۳ـ بررسي و منظوري مقررات و لوايح مبني بر تنظيم امور قضايي كه طبق قانون از صلاحيت ستره محكمه است .

۴ـ رسيدگي قضاياى تاديبي اعضاى ستره محكمه .

۵ـ استماع راپور هاوگزار شات روساى هيئت هاى قضايي وروساى ديوانهاى ستره محكمه و همچنين روساى محاكم ولايات از اجرا آت شان راجع به تجارب تطبيق قوانين و اتخاذ تدابير جهت جلو گيري از اشتبا هات قضايي .

۶ـ بررسي مسايل مبني بر تقرر ترفيع ، تبديلي ، عزل و تقاعد

مسایلو بررسی او د قانون له حکمونو سره سم یی واکمنومقاماتو ته پیشنهادول .

۷ـ د جنحی یا جنایت د ارتکاب په صورت کښی د انقلابی شورا د رئیسه هیأت له خوا د قاضیانو د عزل د منظوری تر وخته پوری له وظیفی نه د قاضیانو موقت‌انفصال.

۸ـ د ستری محکمی د رئیس د پیشنهاد په اساس د ولایتونو د محکمو ددیوانونو د رئیسانو ټاکل .

۹ـ د ولایتو نو ، ښارونو او ولسوالیو د محکمو د تشکیل او بودجی بررسی .

۱۰ـ د ستری محکمی د تشکیل او بودجی بررسی او د قانون له احکامو سره سم یی واکمنومقاماتوته پیشنهادول .

۱۱ـ دمحکمو دقضایی احصائیی د فورمو منظوری .

۱۲ـ د ستری محکمی په فعالیت پوری د مربوطو نورو مسایلو بررسی او د قانون د حکمونو سره سم په دی برخه کښی د تصمیم نیول .

**شپیتمه ماده :**

د ستری محکمی عالی شورا د محکمو په هغو نهایی جزایی او غیر جزایی حکمونو باندی چی د نویو دلایلو د ظهور له کبله د افغانستان د دمو کرا تیک جمهوریت د لوی

یا استعفای قضات و پیشنهاد آن بمقامات ذیصلاح مطابق با حکام قانون .

۷ـ انفصال موقت قضات از وظیفه در صورت ارتکاب جنحه یا جنایت تازمان منظوری عزل قضات از طرف هیئت رئیسهٔ شورای انقلابی .

۸ـ تعیین رو سای دیوانهای محاکم ولایات باثر پیشنهاد رئیس ستره محکمه .

۹ـ بررسی تشکیل و بودجه محاکم ولایات ، شهر ها و ولسوالیها .

۱۰ـ بررسی تشکیل و بودجه ستره محکمه و پیشنهاد منظوری آن بمقامات ذیصلاح مطابق به احکام قانون .

۱۱ـ منظوری فورمه های احصائیه قضایی محاکم .

۱۲ بررسی سایر مسایل مربوط فعالیت ستره محکمه و اتخاذ تصمیم در زمینه مطابق باحکام قانون .

**ماده شصتم :**

شورای عالی ستره محکمه بر احکام نهایی جزایی و غیر جزایی محاکم که به‌سبب ظهور دلایل جدید مورد اعتراض لوی څارنوال جمهوری

څارنوال د اعتراض وړ ګرځیدلی دی نوی نظر کوی .

د نوی نظر موارد و په لاندی ډول دی:

۱ـ په داسی حال کښی چی د شاهدانو د شهادت ، داهل خبری د استنتاج دزیانمن د څرګندونو دروغ یا د اثباتیه مدارکو جعل ثابت شی ، په دی شرط چی د نوموړو د لیلونو هر یو یا ټول د غیر قانونی پریکړی د صادریدلو سبب شوی وی .

۲ـ په هغه صورت کښی چی د جرم دتحقیق مو ظفو اشخا صو یا قاضیانو په قضایا وو باندی د غور په وخت کښی له خپل رسمی مقام نه ناوړه استفاده کړی وی او ثابته شی چی دغه ناوړه استفاده د غیر قانونی حکم د صادریدلو سبب شوی وی .

۳ـ د یو جرم په ارتکاب د دوه کسو محکومول په دی ډول چی د دی دواړو حکمونو تر منځ داسی تناقض موجود وی چی له هغه نه د دی دوه محکومانو د یوه برائت معلوم شی .

۴ـ نور هغه نوی علتونه چی محکمی ته د قضیی د بررسی په وخت کښی معلوم نه وو او د حکم د صادریدلو نه وروسته څرګند شوی وی او دغه علتونه وکولای شی چی د حکم د لغو کیدلو سبب شی .

دمو کرا تیك افغا نستان قـرار گرفته است تجدید نظر میکنند .

موارد تجدید نظر قرار آتی می باشد :

۱ـ در حالیکه کذب شهادت شهود ، استنتاج اهل خبره ، اظهارات متضرر یاجعل مدارك اثباتیه ثابت گردد . مشروط براینکه هریك یا مجموع دلایل متذکره سبب اصدار فیصله غیر قانونی شده باشد .

۲ـ در صورتیکه اشخاص موظف تحقیق جرم یا قضات حین بررسی قضایا از مقام رسمی خود سوء استفاده کرده و ثابت گردد که این سوء استفاده سبب اصدار حکم غیر قانونی گردیده است .

۳ـ محکوم کردن دو شخص به ارتکاب یك جرم در صورتیکه بین این دو حکم چنان تناقض موجود باشد که از آن برائت یکی از دو محکوم معلوم گردد .

۴ـ سایر علل جدید یکه برای محکمه حین بررسی قضیه معلوم نبوده و بعد از اصدار حکم واضح شده باشد و این علل موجب لغو حکم شده بتواند .

د حکم د لغو کیدلو په صورت کښې ، د ستري محکمې عالي شورى قضيه مربوطې محکمې ته د نوى غور لپاره ارجاع کوى .

## يو شپيتمه ماده :

۱ـ د ستري محکمې عالي شورا صلاحيت لري چې په خاصو حالاتو کښې د خپل تصميم يا د لوى ثارنوال د غوښتنې په اساس هغه قضايا چې ابتداء تر غور لاندې نيول کيږي ، د ابتدايي غور لپاره د ستري محکمې مربوط ديوان ته وسپاري يا د ولسوالي يا ښاري محکمو په صلاحيت کښې شاملې قضيې د ابتدايي غور لپاره د ولايت محکمې ته وسپاري .

۲ـ د ستري محکمې عالي شورى صلاحيت لري چې د ضرورت په وخت کښې د خپل تصميم يا د لوى ثارنوال د غوښتنې په اساس د ښاري محکمې يا دولسوالي دمحکمې په صلاحيت کښې بعضې شاملې قضايا بلې ښاري يا د ولسوالي محکمې ته د غور لپاره وسپاري .

## دوه شپيتمه ماده :

د ستري محکمې عالي شورا په مياشت کښې يو ځلې غونډه کوى ،د ستري محکمې دعالي شورا پهغونډو کښې د لوى ثارنوال ګډون حتمي دى .

در صورت لغو حکم ، شوراى عالى ستره محکمه قضيه را به محکمه مربوط جهت رسيدگى مجدد ارجاع ميکند .

## ماده شصت و يکم :

